# د حمید مومند د شعرونو بیلګی

## غزل

خط په مخ د صنم راغی که سپوږمی شوه په هاله کې

دا یی غاښ به خوله کې زیب کا که ژاله شوه په لاله کې

هسی رنګ سحر او جادوکړی به نظر د شهلا سترګو

نه یی سیال په هندکې شته دی نه ثاني په بنګاله کې

لکه ونښلي مرغی په سست دام دسلو لومو

هسی رنګ پریشانه زلفو کښیویستم په کشاله کې

دا زما له غمه شین زړه په کی خیال دیار د شونډو

هسی رنګ زیب و زینت کا لکه می په شنه بیاله کې

ما ویل عین ګنه ګل دی د غنچې په لمن نغښتی

که مې کوت یو ګل اندام وو پروت په سبزه دوشاله کې

ښکلی مخ کړي ولی ناسته په مجلس د رقیبانو

په جّوار د سپیونه وي هیڅ ارام په غزاله کې

سر تر پایه غم د هجر لکه نی سوری سوری کړم

ځکه یم مدام دا هسی رنګ په اه اوپه ناله کې

که یار غواړې هومره ژاړه څو درځي عبدالحمیده

دا په دا چې دُر مونده شي په دریاب نه په ناله کې

## غزل

دداغلي زړه له آهه شم څه شان چُپ ؟

د چمن په ګلونه وي بلبلان چُپ

خلاص شـي بيا لکه تـــورزن دټـــــول له منځه

که هر ځوپه غــاښـــــو ونيسم ژبـــــان چـــُپ

له خامی جوش او خروش خيږي لــــه ديــګه

وي لـــه خپـــلې پښتـــګی پښتـــــګان چُپ

په اوبو به دې دمـــــراد ډيـــوه شـــــي بــــله

که صدف غونـــــدې په صبر کړي دهان چُپ

چې دانـــه پـــه خـاورو پټه شي خوشه شي

په ګـــوګـــل دنـــنه وســــاتـه آرمان چُپ

د بلبلونـــــاري ښـــې نـــه دی پـــه ګـــلو

چې په سرولمبوکــې ســوزي پتنګان چُپ

لــکه کـــاه اوکـــهـــربـــاچـــې سره بولې

هسې پټه خولـــه بلل کاندي يـــاران چُپ

لکه ژاړ ي پــــټه خوله  بوره بــــدنــامـه

هسې کـــانـدي ميين زړه آه و فغان چُـپ

آبـــرويـــی دشکرخورميلمه به ځـــه کــا

چې حميد شکر باري کا په ګريوان چُپ

## غزل

غره مه شه که په پښو دی نا خوال پريووت

د سيلاب له پايبوسيه ديوال پريووت

په هجران کې  به مې تير    له حلقه نه شي

که و خولې وته مې ګوټ د زلال پريووت

محبت نه   وو يو   تندر    آسماني    وو

چې نا ګاه زما په سر او په مال پريووت

نا خبر   خلق  يی ولې   شفق       بولي ؟

دا زما د زړه له زخمه     دسمال پريووت

مه شه   وکتی    پُر    پيچ     زلفې د ترکو

هود HOWD

چې په هر تار یی وزړه ته جنجال پریووت

چې ښکاره زما د زړه تابنده لمر شو

د سپوږمی له لاسه هلته مشال پریووت

شوم فلک د روټی مورګه هله ورکړي

چې له لاسه ما ت کچکول د هلال پریووت

دا مې بریوته پیښه دزړه له داغه

که له لاسه د لمر مخی مشال پریووت

چې زما ددرویزې په کچکول خیر شې

د حاتم په زړه یی سهم د سوال پریووت

خپه کړی دی هرګوره د یار هجر

خکه غړ د حمید نه شي ملال پریووت

## غزل

دد ښنه په مرګ هالـه کـــوه ښـــــادی

کــــه فـــرمـــان لـــری دخپـــلې آزادی

چې د بل په نامرادی کې مراد غـــواړې

دا سبــــب ګنــــه دخپـــلې نـــامـرادی

لکه ته چې یی پخپله په خپل خان کړې

د ښمـــن نــــه کړی په دښمن دابیدادی

دسیـــــلاب له خود روییه سر واهه شي

همیشه بــــه کـــاڼـــې بــوټـــی درواری

د حمید دا بی کرداره ګفـــتار پـــوچ دی

لکه بـــولـــې ګـــدایــــی په شاه زاری

HOWD هـود

# غزل

ربه زړه د رقیب نرم په احسان کړی

دا هندوراباندی خه خو مسلمان کړې

زما صبر تیره توره کړی په عشق کی

رقیبانورباندی غوځ په خپل ګومان کړ

چې خاطر د آهو چشمو ترې و حشت خورې

هغه واړه ودانی زما دامان کړې

اور زما ددین دنیا په کور کړې پورې

ځو مې عذر په عزت د عشق مهمان کړې

چې روښان دیار د مخ په ډیوه نه وی

وران زما د زندګیه خانمان کړې

یا زمان دیار د وصل کړې رانوی

یا مې عمر په هجران کې یو زمان کړې

چې مدام په نغوته کار کړې د اغیارو

له دغه کاره مې یار خه خو پښیمان کړې

رقیبان مې د هجران په اور کې ولې

د خلیل په دود مې ربه په آمان کړې

ګوره نن په خیر خیر مخ دیار حمیده

چې صبا ور پسی لاس مړی ارمان کړې

# غزل

آهوچشمو چې یې زړه په افسون وکینښ

هغوسرله ودانی په هامون وکینښ

انتظار یی دنرګس ګونه کړه زیړه

سروی سرپسی له باغه بیرون وکینښ

دا یی ښاخ له ګل سره په تلوار پریک کړ

که له زړه سره مې ترکولړمون وکینښ

HOWD
هود

په هغو د هوس وورکی ټولون نه کا

چې له غاړی یی زنځیر د جنون وکیښ

بیهوده یی صبحدم بولي وګړي

دغه آه زما له غمه ګردون وکیښ

چې یی وکیښ خط توبری دیار له لاسه

چې یی وکیښ خط توبری د یار له لاسه

ساده دل دامیدزړی زرغون وکیښ

هریوداغ شی دپیغور راپوری نخښلي

چې بی یاره مې هر دم د ژوندون وکیښ

دا په اور باندی ژړا د کباب خیږی

که فریاد دیار له غمه محزون وکیښ

و اسمان ته به د شعر زینې کیږدي

که حمیددغم له سره زنګون وکیښ

## غزل

ډیرمې مه اړوه په توراو سپین صنمه

چې خوني به په خپل ځان شم ستا له غمه

چې چیچلی دې دعشق بی دمه مار یم

خود به دم راخخه وګاږی تردمه

چې کاته راته په څنګ کاږه کړې

لا مې نه دی ستا په مینه کې چار سمه

ډیرو اوښکو مې صورت له برمه پریووست

زر به پریوځي دادیوال له دغه زیمه

له ستمه دی کَرم هسې جلوه کړي

له بریښي آب حیات له توره تمه

د ناصح مهر، کرم دی صدقه شي

ستا د عشق له هره جوره تر ستمه

HOWD هود

ستا دي کجو  زلفو هسې خـــــلق حيران کړه

چـــې يــــوســـف يـــی جـلوه کا له هره خمه

د حميد ســــوزنــــده شعر وســــــوم وســـوم

دا آواز کـــــانــــــدي ربــاب له زير او بمه

## غزل

محـــــبت کــــړم دخـــوبانـواوښ پــه نته

د هـــــر چـــــا د ظلم بار وړم بـــــې منــــــته

د ښکاري په دودجـــاروخم تـــرهـــر بوټي

درسته ورځ د يـــــــوه ښـــــــکار له محبته

پروت په وينو کې لت پت ښه يم په پت کې

نه دســـــروزروپــــــه تخـــت باندي بې پته

د کمـــال کعـــبه بـــــه هــله شي در پـيښه

کـــــــه دلار دکمـــينـــــی نـــه کـــړه غلطه

طلبوه ســــرفـــــرازي پّـــه ســرکـــوزی کې

را کـــــــوزيــــړي پـــــه هډوکي هما ښکته

چې د عشق د سپـــکاوی درنښت مې وليد

بــــــی پـــرواشــــــوم د نـــاصح لــه ملامته

هـــــغه تــــشي شړومبې شاربي سروري کا

چې ښادي غــــــواړي بــــــې غمه بی محنته

که هر څو يی پــــــه ر ضـــــااوپه صلاح وي

ويـــــره بــــويــــه د رقيــــب لــــه شيطنته

کــــه د ښکـــــــلو ددرګـــــاه ګـــدايی مومم

هی تــــــوبــــــه د محمد شـــــاه لـه سلطنته

چــــــې مــــې ختــې فرښتو په لاس اخښلي

لا هـــــالـــــه مـــې بوی دعشق  تلو له طينته

څو د پښې دتورتــــــارونـــــه وی نيــــولي

HOWD

بـــــاز بـــــه لاس لـــــــره درنــــه شي قراغته

چې نا صح په ترک د عشق ځــــــه درته وایی

و دوزخ تـــــــه دی  وبـــــاســــــي لـــــه جنته

د آشنا د محبت پــــــه لــــــوی سفــــــر کـــې

د حمـــــــــید د تـــــــندي پیـــــښی یی صورته

هود HOWD

www.howd.org